# اوچتې مرتبې والا دوه شخصیات

**09-February-2023**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

د 9 فرورئ 2023ء د پاکستان په هفته وار اجتماع کښې کيدونکے بيان

# اوچتې مرتبے والا

## دوه شخصيات

په دې بيان کښې به تاسو اوپيژنئ......

❁... د حضرت امير معاويه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ذِکرِ خير

❁... جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام سلام اوکړو

❁... د اُمَّت بهترين انسان

❁... د اَمِيرُ الْمُؤمِنِين د تَبَرُّکاتو سره محبت

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

❁❁❁❁❁

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِیَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې کله جُمات ته داخل شئ، نو ياد ساتئ او د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې په جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي. ياد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کيدلو يا پيشمني او روژه ماتي کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د مخکښې نه مو د اعتکاف نِيَّت کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د معجمِ کبير روايت دے، خوږ او آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: تاسو چې چرته هم ئې، په ما باندې دُرُود لولئ چې ستاسو درود ماته رارسي.[1] په يو حديثِ پاک کښې دي: بيشکه ستاسو نومونه د شناخت سره ماته وړاندې کولے شي، ځکه په ما باندې په اَحسَن (يعني په ښکلو الفاظو کښې) درودِ پاک لولئ.[2]

ہر درد کی دوا ہے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد (ﷺ) | تعویذِ ہر بَلا ہے صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد (ﷺ)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ... معجم كبير ،جلد:2 ،صفحه:212 ، حديث:2663۔
[2] ... مصنف عبد الرزاق،جلد:2 ، صفحه:140 ، حديث:3116۔

# د بيان اوريدلو نيتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په حديثِ پاک کښې دي: اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نيت بنده جنت ته بوځي.[1]

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نيتونو سره د عمل ثواب زياتيږي. راځئ! د بيان اوريدلو نه مخکښې څه ښه ښه نِيَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِيَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀ د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت به بااَدبه کښينم ❀ ښه په توجو به بيان اورم ❀ څه چې اورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رسولو کوشش کوم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اوچتې مرتبے والا دوه شخصيات

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د اسلام د تاريخ اوچتې مرتبے والا دوه شخصيات دي، دې دواړو له الله تعالٰی د پاک سيرت او کردار، تقویٰ او پرهيزګارئ، اِخلاص ولِلّٰهيَّت، د الله پاک نه ويره او مصطفٰی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عشق په شان د عظيم نعمتونو سره سره په دُنيا کښې تاج و تخت او حکومت هم ورکړو او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دې دواړو د عدل او انصاف لمَن ښه کلکه اونيوله او ډير په ښه انداز کښې ئې د تخت او حکومت ذمه وارئ ترسره کړلې. په دې دواړه اوچتې مرتبے والا شخصياتو کښې (1): يو خو صحابئ

[1]...مسند فِردَوس، جلد:4، صفحه:305، حديث:6895۔

**رسول دے او د هغوئي نوم مبارک حضرت امیر مُعَاویه** رَضِیَ اللهُ عَنْهُ **دے (2):** او بَل **حضرت عمر بن عبد العزيز** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **دے.**

## د حضرت امیر مُعَاویه او حضرت عمر بن عبد العزيز په خپل مینځ کښې مشابهَت

که چرې مونږه د دې دواړو اوچتې مرتبے والا شخصياتو سیرت په غور سره اُولوَلو نو معلومیږي چې د دې دواړو په سیرت کښې ډیر زیات څیزونه د یو بَل سره مشابهَت لري. مثلاً ❁ حضرت امیر مُعَاویه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اَوَّل مُلُوکِ اسلام (یعنې د اسلامي تاريخ وړومبے بادشاه) دے او د هغوئي دا پاک صِفَت په آسماني کتاب تورات شریف کښې بیان شو. دغه شان حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اَوَّل مُجَدِّد دے. د حضرت امیر مُعَاویه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د ظاهري وصال نه پس یزیدي فتنے شروع شوے، په دغه وخت کښې د کربلا واقعه هم راپیښه شوه، یزید اګرچه یو څو کاله پس هلاک شوے وو، البته د دې فتنے اثرات وروستو هم پاتې وو، د څه مودې پورې په تاج او تخت باندې د حرص او هوس سورے راخور وو، آخِر حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تشریف راوړو او هغوئي د یزیدي فتنے باقي پاتې اثرات ختم کړل او د خِلافتِ راشده یاد ئې تازه کړلو. ❁ حضرت امیر مُعَاویه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ عِلم دوست شخصیت وو، د اسلام په تاریخ کښې د ټولو نه وړومبے د هغوئي په دور مبارک کښې د تاریخ د عِلم باقاعده کتابونه اولیکلے شول، دغه شان حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم عِلم دوست وو، **د هغوئي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **په دور مبارک کښې احادیث مبارک په کتابي شکل کښې د جمع کولو باقاعده طور کار شروع شو** ❁ هم داسې چې نور غور اوکړئ، حضرت امیر مُعَاویه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ هم د الله

پاک نه ويريدونکے وو، حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم د الله پاک نه ويريدونکے وو ❁ حضرت امير مُعَاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم عدل خوښوونکے وو، حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم عدل خوښوونکے وو ❁ حضرت امير مُعَاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم د خلقو خير خواه وو، حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم د خلقو خير خواه وو ❁ حضرت امير مُعَاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته خوږ آقا، د مديني جانان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اَحْلَمُ اُمَّتِیْ (يعني په اُمَّت کښې د ټولو نه زيات حِلم والا) خطاب عطا کړو او حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته په حديثِ پاک کښې د اُمَّت بهترين انسان اوفرمائيلے شو ❁ حضرت امير مُعَاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم ډير لوئے عاشقِ رسول وو، حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم ډير لوئے عاشقِ رسول وو ❁ حضرت امير مُعَاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به هم د صحابهٔ کرامو او اَهلِ بيتو سره ډيره زياته مينه کوله، او د هغوئي اَدب او احترام به ئې کولو، حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم د صحابهٔ کرامو او اَهلِ بيتو سره مينه کوله ❁ د حضرت امير مُعَاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره هم د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تَبَرُّکات وو، حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تَبَرُّکات سنبال کړي وو ❁ او قربان شم! حضرت امير مُعَاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم په آخري وخت کښې د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تَبَرُّکاتو په قبر کښې د ايښودو وَصِيَّت اوفرمائيلو، دغه شان حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم په خپل قبر کښې د مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تَبَرَّکاتو د ايښودلو وَصِيَّت اوفرمائيلو.

غرض، د دواړو اوچتو مرتبو والا شخصياتو د پاک سيرتونو ډير زيات اړخونه دي کوم چې د يو بَل سره مشابهت لري. يو اړخ دا هم دے چې د دې دواړو شخصياتو

عرس مبارک په رَجَبُ الْمُرَجَّب کښې وي، حضرت امیر مُعَاویه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په 22 رجب د دې دُنیا نه وصال فرمائيلے وو، ځکه په 22 رَجب د امیر مُعَاویه ورځ لمَانځلے شي، دغه شان حضرت عمر بن عبد العزیز رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په 25 رَجَب وصال فرمائيلے وو، ځکه په 25 رَجَب د عمر بن عبد العزیز ورځ لمَانځلے شي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! د دعوتِ اسلامي علمي او تحقیقي شعبے اسلامِک ریسرچ سنټر (اَلْمَدِینَۃُ العِلمِیَّه) ته د دې دواړو د اوچتې مرتبے شخصیاتو په سیرت باندې د کتابونو لیکولو سعادت حاصل شوے دے: (1): فیضانِ امیر مُعَاویه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ (2): حضرت سیدنا عمر بن عبد العزیز کی 425 حکایات، دا دواړه کتابونه د مکتبة المَدینه نه طلب کړئ! پخپله ئې هم اولولئ! په کور والؤ باندې ئې هم اولولئ! او نورو ته هم د دې ترغیب ورکړئ.

راځئ! د امیر مُعَاویه او د عمر بن عبد العزیز د ورځو په مناسبت سره د دې دواړو اوچتو مرتبو والا شخصیاتو ذِکرِ خیر کوؤ:

## د حضرت امیر معاویه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ذِکرِ خیر

❁ حضرت امیر مُعَاویه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ اَوَّل مَلُوکِ اسلام (یعنې په اسلامي تاریخ کښې د ټولو نه وړومبے بادشاه) دے ❁ د مکې مکرمې د مشهور سردار ابو سفیان رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ځوئ دے ❁ د هغوئي مبارک نوم: **مُعَاوِیه** ❁ کُنیت: **ابو عبد الرحمان** او ❁ **ناصِرُ الدِّین (یعنې د دین مدد کوونکے)، ناصِر الحَقّ (یعنې د حق مدد کوونکے)** د هغوئي القابات دي ❁ حضرت امیر مُعَاویه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نبوت د اعلان فرمائيلو نه 5 کاله مخکښې په مکه مکرمه کښې دُنیا ته تشریف راوړو ❁ د هغوئي قد مبارک لوړ [اوچت] وو ❁ رنګ ئې سپین او ښکلے

❁ شخصيت ئې رُعب داره وو ❁ د سر په ويښتو او ګيره مباركه باندې به ئې نكريزه لګوله ❁ ډير حِلم والا، بُردباره، باوقاره، مالداره، په خلقو كښې سردار، كرم فرمائيلو والا او انصاف قائم ساتلو والا وو ❁ حضرت حُسين بن محمد دِيار بَكري رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: حضرت امير مُعَاويه رضی اللہ عنہ رُعب او دبدبې والا، دُور انديش، بهادر، سخي او بُردباره بادشاه وو ❁ حضرت امير مُعَاويه رضی اللہ عنہ د صلح حُدَيبيه په ورځ يعني په 6 هجرئ كښې اسلام قبول كړو.[1]

## جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام سلام اوكړو

د خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم ډير با اعتماده صحابهٔ كرام علیھم الرضوان كومو ته چې به رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صلی اللہ علیہ والہ وسلم د قرآنِ كريم د ليكلو ذمه واري سپارله، په هغوئي كښې يو حضرت امير مُعَاويه رضی اللہ عنہ هم دے. د حضرت عبدُ الله بن عبّاس رضی اللہ عنہ نه روايت دے، يوه ورځ حضرت جبرائيل علیہ السلام په بارګاهِ رسالت كښې حاضر شو او عرض ئې اوكړو: يا رسولَ الله صلی اللہ علیہ والہ وسلم! مُعَاويه ته سلام اووائې او د خير په باره كښې وصيت قبول كړئ ځكه چې هغه د كتابُ الله (قرآنِ كريم) امين دے او خومره ښه امين دے.[2]

کاتِب ہے جو کلامِ خُدا اور سول کا، پکّا اُصول کا
ہر زاویہ ہے جس کا ذہانت کا زاویہ، وہ ہے مُعاویہ
راوی ہے جو حدیثِ رسالت مآب کا، کاتِب کتاب کا
نوکِ زباں ہیں جس کے فیوضِ سَماوِیہ، وہ ہے مُعاویہ

---

[1]...فيضانِ اميرِ مُعَاوِيَہ، صفحہ:15-16-17-25ملتقطاً۔
[2]...البدايہ والنھايہ،جز:8،جلد:4،صفحہ:514۔

## اللّٰه او رسول د مُعَاويه سره مينه کوي

په اِبنِ عساکِر کښې دي، يوه ورځ خوږ آقا، محبوبِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمُّ المُؤمِنِين حضرت اُمِّ حبيبه رَضِیَ اللهُ عَنْها خوا ته تشريف راوړلو، هغه وخت حضرت امير مُعَاويه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ هم هلته وو او د هغوئي خوږې خور يعني اُمُّ المُؤمِنِين حضرت اُمِّ حبيبه رَضِیَ اللهُ عَنْها د هغوئي سر کمنزولو، د خور او ورور د مينې دا ډک انداز ئې چې اوليدلو نو د اللّٰه پاک خوږ نبي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے اُمِّ حبيبه! آيا تهٔ د مُعَاوِيه سره محبت کوې؟ عرض ئې اوکړو: دا زما وروور دے، د ده سره به مې محبت ولې نه وي؟ مالِکِ جنّت، صاحبِ کوثَر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **اللّٰه او رسول هم د مُعَاوِيه سره محبت کوي.**[1]

معاويه کے پيار سے ہمارا بيڑا پار ہے
جو عاشقِ رسول ہيں وہ ان سے پيار کرتے ہيں

گناه بخشوائے گی شفاعتِ معاويہ
فقط منافقوں کو ہے عداوتِ معاويہ

## د امير مُعَاويه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د امامِ حَسَن رَضِیَ اللهُ عَنْهُ سره محبت

حضرت اِبنِ بُرَيده رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يو ځل امام حسن مجتبیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د حضرت امير مُعَاويه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ خوا ته تشريف راوړلو، حضرت امير مُعَاويه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ امامِ حسن مجتبیٰ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته اووئيل: نن به زه تاسو ته هغه نذرانه وړاندې کووم کومه چې چرې هم چا بَل چا ته نه وي وړاندې کړې. بيا حضرت امير مُعَاويه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ 4 لاکه دِرهمه وړاندې کړل.[2]

[1]... تاريخِ مدينہ دمشق، جلد:59، صفحہ:89۔

[2]... سِيَر اعلام النبلاء، معاويہ بن ابی سفيان، جلد:4، صفحہ:309۔

مشهور مُفَسِّرِ قرآن ، حکِیمُ الاُمّت حضرت مفتـي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ نقل فرمائي: یو ځل حضرت امیر مُعَاویه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د امامِ حسن مجتبیٰ رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په خدمت کښې 40 کروړ رقم د نذرانې په طور وړاندې کړو. چې کله به امام حَسَن رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د حضرت مُعَاویه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ خوا ته راتللو نو امیر مُعَاویه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ به هغوئي په خپل ځائې باندې کښېنولو، پخپله به لاس په نامه د هغوئي مخې ته اودریدلو، چا ترې پوښتنه اوکړه: تاسو داسې ولې کوئ؟ اوئې فرمائیل: امامِ حسن مجتبیٰ رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هَم شکل دے، زه د دې مشابَهَت احترام کووم.[1]

## د امیر معاویه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ 2 اعلٰی صِفتونه

یو اوګړد حدیثِ پاک دے، په کوم کښې چې خوږ نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابۀ کرامو عَلَیۡھِمُ الرِّضۡوَان خاص صِفتونه بیان فرمائیلي دي، په دې حدیثِ پاک کښې د حضرت امیر مُعَاویه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د 2 خاص صِفتونو بیانولو سره رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: **وَ مُعَاوِیَۃُ بْنُ اَبِی سُفْیَان اَحْلَمُ اُمَّتِی وَ اَجْوَدُھَا** او معاویه بن ابو سفیان زما په اُمَّت کښې د ټولو نه زیات حِلم والا او ډیر سخي دے.[2]

**خوږ واو محترمو اسلامي ورونړو!** حِلم د حضرت امیر مُعَاویه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ خاص صِفت دے. د امیر مُعَاویه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ یومِ عُرس تشریف راوړي، د امیر مُعَاویه د یومِ عُرس په نسبت سره مونږ له هم پکار دي چې حِلم خپل کړو.

## د حِلم فضائل

د حِلم معنٰی ده: بُرد باري، صبر، زړه نرمي. د غُصې قابو کولو او برداشت کولو ته

[1]...مرآۃ المناجیح، جلد:8، صفحہ:461۔

[2]...بغیۃ الباحث، کتاب : المناقب، باب:فیما اشترک فیہ ، جلد:1، صفحہ:893، حدیث:965۔

حِلم وئيلے شي. په احاديث مبارک کښې د حِلم ډير فضيلتونه بيان شوي دي: **(1)** خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بيشکه انسان د حِلم په وجه د عبادت کوونکي او روژه نيوونکي درجه مومي.[1] **(2)** د دواړو جهانونو سردار، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: حلم والا انسان په دُنيا کښې هم او په آخرت کښې هم سردار وي.[2]

د صحابئ رسول، حضرت امير مُعَاويه رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ په طفيل دې الله پاک مونږ ته د حِلم دولت نصيب کړي.

**اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن** صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم .

راځئ! د حضرت عُمَر بن عبدُ العزيز رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ذِکرِ خير هم کوؤ:

## د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ذِکرِ خير

نقل دي چې يو ځل اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ مکې مکرمې طرف ته تشريف وړلو، په لار کښې په يو ميدان کښې هغوئي يو مَړ مار اوليدلو. (کيدے شي چې د هغوئي د وِلايَت نظر د مار حقيقت پيژندلے وو) هغوئي کنده اوکنستله او مار ئې په کېږه کښې راغونډ کړو او خخ ئې کړو.

ناڅاپه غيبي آواز راغے: اے سُرَّق! په تا باندې دې د الله پاک رحمت وي، زه ګواهي ورکووم چې ما د الله پاک د رسول صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي: اے سُرَّق! ته به په يوه بيابان ميدان کښې مړ کيږې او تا به زما د اُمَّت يو بهترين انسان خخوي. دا

[1]...معجمِ اوسط،جلد:4 ،صفحہ:369،حديث:6273۔

[2]...کنز العمال، کتاب الاخلاق، قسم الاقوال، جز:3 ،جلد:2 ، صفحہ:55 ، حديث:5807۔

غيبي آواز ئي چې واوريدلو نو حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دغه آواز كوونكي نه پوښتنه اوكړه: الله پاک دې په تا باندې رحم اوكړي، تهٔ څوک ئې؟ هغه اووئيل: زه د پيريانو نه يم، د ده نوم سُرَّق دے، مونږه په هُغه پيريانو كښې يو كومو چې د مدينې تاجدار، د دواړو جهانونو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره بيعت كړے دے، زمونږ د دواړو نه علاوه په هغوئې كښې څوک هم ژوندي نه دي پاتې، ما د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوريدلي وو: اے سُرَّق! تهٔ به په بيابان ميدان كښې مړ كيږې او تا به زما بهترين اُمّتي خخوي.[1]

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د ايمان نه ډَكې د دې واقعې نه 2 خبرې معلومې شوې: (1): دا چې زمونږه خوږ آقا، د مدينې جانان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک په عطا سره د غيبو نه خبر وو، ځكه خو هغوئې صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه صحابئ رسول پيرې سُرَّق ته د هغه د وفات كيدلو د ځائے په باره كښې هم اووئيل او دا ئې ورته هم اووئيل چې د هغوئې د خخولو سعادت به څوک شان او عظمت والا حاصلوي.

سب مِثلِ ہتھیلی پیشِ نظر، ہر غیب عَیاں ہے سینے پر
یہ نورِ نظر، یہ چشمِ بَصَر، یہ علم و حکمت کیا کہنا...!![2]

**(2): خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دې واقعې نه بله خبره دا هم معلومه شوه چې اَمِيرُ المُؤمِنِين حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د اُمَّت بهترين انسانانو كښې يو [انسان] دے.

---

[1]... دلائل النبوۃ للبیہقی،جلد:6 ،صفحہ:494 ۔

[2]... قباله بخشش، صفحہ:86۔

## خير او نيکۍ والا يو عمل

عظيم عالِمِ دِين، ډير لوئے محدِّث، عاشقِ رسول، د کروړاؤ حنبليانو امام، حضرت امام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

اِذَا رَاَيْتَ الرَّجُلَ يُحِبُّ عُمَرَبْنِ عَبْدِ الْعَزِيْزِوَيَذْكُرُ مَحَاسِنَهٗ وَيَنْشُرُهَا فَاعْلَمْ اَنَّ مِنْ وَّرَاءِ ذٰلِكَ خَيْرًا اِنْ شَآءَ اللهُ

يعني چې کله تاسو اوګورئ چې څوک د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره محبت کوي او د هغوئي خوبياني بيانوي او د هغې عام کولو اهتمام کوي نو پوهه شئ چې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د هغه انجام خير هم خير دے.[1]

## د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تعارف

حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عظيم تابِعي بزرګ دے، د هغوئي نوم مبارک: عمر او کُنيت: ابو حفص دے. د هغوئي مور بي بي د مسلمانانو د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نمسئ وه.[2] په دې لحاظ سره د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په رګونو کښې هم فاروقي وينه وه ❀ حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به فرمائيل: زما په اولاد کښې به يو ګس وي، د کوم په مخ باندې به چې د زخم نښه وي، هغه به زمکه د عدل او انصاف نه ډکه کړي لکه څنګه چې اوس د ظلم نه ډکه ده.[3]

---

[1]... سيرة و مناقب عمر بن عبد العزيز لابنِ جوزی،صفحہ:74۔
[2]... حضرتِ سيدنا عمر بن عبد العزيز کی 425 حکايات،صفحہ:30۔
[3]... سيرة و مناقب عمر بن عبد العزيز لابنِ جوزی،صفحہ:11۔

د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د مبارک خوب مِصدَاق حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ وو ❁ هغوئي د 25 کالو په عمر مبارک کښې د مديني مُنَوَّرې ګورنر جوړ شول ❁ وروستو هغوئي ټخپله په څه وجه دا عهده پرېښودله ❁ د هغې نه ډېره موده پس چې کله خليفه سليمان بِن عبد المَلِک وفات شو نو هغوئي خَلِيفَةُ المُسلِمِين او اَمِيرُ المُؤمِنِين مقرر شول.

## زما په مقام کښې خو څه کمے رانغلے

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَمِيرُ المُؤمِنِين حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د وخت خليفه وو، د دې باوجود به هغوئي ډېره عاجزي او انکساري کوله. يو ځل د شپې د هغوئي خوا ته څوک ميلمه راغے، هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ څه ليکل کول. نِزدې وه چې ډيوه مړه شوې وے. ميلمه عرض اوکړو: زه پاڅم او دا ټيک کووم. حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ اوفرمائيل: لَيْسَ مِنْ كَرَمِ الرَّجُلِ أَنْ يَسْتَخْدِمَ ضَيْفَهُ په ميلمه باندې کار کول د عزّت داره انسان طريقه نه ده. ميلمه اووئيل: غلام راپاڅووم؟ اوئې فرمائيل: هغه اوس اوس اوده شوے دے. بيا هغوئي ټخپله پاڅيدلو او ډيوه ئې د تيلو نه ډکه کړه. ميلمه اووئيل: يَا اَمِيرُ المُؤمِنِين! تاسو ټخپله ذاتي طور دا کار اوکړو؟ اوئې فرمائيل: ذَهَبْتُ وَاَنَا عُمَرُ، وَرَجَعْتُ وَاَنَا عُمَرُ کله چې زه (د دې کار د پاره) لاړم نو هم عمر ووم او چې بيرته راغلم نو هم عمر ووم، زما په مقام کښې هيڅ کمے خو رانغلو او بهترين انسان هغه دے کوم چې د الله پاک په وړاندې عاجزئ والا وي.[1]

[1]... احياءَ علومِ الدين،کتاب ذم الکبر و العجب، بيان اخلاقِ المتواضعين...الخ،جلد:3،صفحه:435 ـ

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! تاسو اوکتل! حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه څومره عاجزي اوکړه، الله پاک دې مونږ له هم د عاجزۍ او انکسارۍ توفيق را کړي. خبره واقعي چې ربښتيني ده ❀ څوک چې غرور کوي، هغه هم انسان دے، هغه هم د خاورې نه جوړ دے، د هغه هم 2 لاسونه، 2 ښپے، 2 سترګې، 2 غوږونه او ❀ کوم چې عاجزي اختياروي، هغه هم انسان دے، هغه هم د الله پاک بنده دے. د يو د عاجزۍ کولو او د بَل د غرور کولو سره د هغوئي په هستۍ هيڅ فرق نه پريوځي، آؤ! فرق پريوځي په انجام کښې، د غرور انجام ذِلّت او هلاکت دے خو د عاجزۍ او انکسارۍ انجام لوړ والے دے. د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے: څوک چې د الله پاک د پاره عاجزي اختيار کړي الله پاک به هغه ته اوچت والے عطا کړي، بس بيا به هغه خپل ځان کمزورے ګڼړي خو د خلقو په نظر کښې به عظيم وي او څوک چې غرور اوکړي الله پاک به هغه ذليله کړي، بس بيا به هغه د خلقو په نظر کښې پريوتے وي خو ځان به لوئے ګڼړي تر دې پورې چې دا د خلقو په نزد د خنزير نه هم بدتره شي.[1]

فخر و غُرور سے تُو مولیٰ مجھے بچانا | یاربّ! مجھے بنا دے پیکر تُو عاجِزی کا[2]

## کله چې ئې سلام کول هير شول

يو ځل يو څو کسان ناست وو، حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه تشريف راوړلو او د سلام کولو نه بغير د هغوئي په خوا کښې کښيناستو، کله چې هغوئي ته رایاد شول نو د خپل ځائے نه پاڅيدو، ټولو ته ئې سلام اوکړو، بيا ئې تشريف کيښودو.[1]

---

[1]...کنز العمال،کتاب الاخلاق ،جز:3 ،جلد:2 ،صفحہ:50،حديث:5734۔

[2]...وسائلِ بخشش، صفحہ:178۔

سُبۡحٰنَ الله! په سُنَّت باندې د عمل كولو څومره ښكلې جذبه ده...!! خو افسوس! نن صبا زمونږه حالات ډير افسوسناك دي، دلته خلق د يو بَل سره د ميلاؤيدلو په وخت د سُنّت مطابق د سلام كولو په ځائے ❀ ښه چارې ❀ څنګه ئې؟ ❀ طبيعت دې څنګه دے ❀ سحر مو په خير ❀ شپه مو په خير وغيره عجيبه شان الفاظو نه شروع كوي، دا د سُنَّت **خلاف** دي. د رُخصتيدو په وخت هم ❀ په مخه دې ښه ❀ ګُډ بائے ❀ ټاټا وغيره وئيلو په ځائے سلام كول پكار دي. آؤ د رخصتيدو په وخت داَلسَّلَامُ عَلَيۡكُمۡ وئيلو نه پس كه چرې الله دې مَل شه اووائې نو هيڅ باک پكښې نشته.

## دا اسلامي سلام نه دے

صحابئ رسول حضرت ابو راشِد عبد الرحمان رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ فرمائي: زه ماشوم ووم، يو ځل د خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت كښې حاضر شوم نو ما اووئيل: اَنۡعِمۡ صَبَاحاً (دا عربي دہ، د دې انګلش ترجمه به جوړيږي: **Good Morning**) يعني سحر مو په خير. رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم اوفرمائيل: دا خو د مسلمانانو سلام نه دے، كله چې تۀ د چا خوا له ځې نو وايه: اَلسَّلَامُ عَلَيۡكُمۡ وَرَحۡمَةُ اللهِ.[2]

## د سلام كولو عادت جوړ كړئ!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! سلام كول زمونږه د خوږ آقا، مكي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډير ښكلے سُنت دے.[3] مونږ له هم عادت جوړول پكار دي، چې وروميے سلام اوكړو، بيا كلام اوكړو. اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡكَرِيۡم! ثواب به مو هم اوشي، په خپل

---

[1] ... سيرة عمر بن عبد العزيزلابن عبدالحكم، صفحه:51۔

[2] ...الكنٰى و الاسما ء،جلد:1، صفحه:56،حديث:217 ملتقطًا۔

[3] ... بهارِ شريعت ،جلد:3،صفحه: 459،حصه:16 ۔

مينځ کښې به مو اتفاق او اتحاد او ورورولي او مينه هم زياته شي. زمونږه خوږ نبـي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: لَاتَدۡخُلُوا الۡجَنَّةَ حَتّٰى تُؤۡمِنُوۡا تاسو تر هغه وخته پورې جنّت ته نه شئ داخليدے، تر څو پورې چې ايمان را نه وړئ! وَلَا تُؤۡمِنُوۡا حَتّٰى تَحَابُّوۡا او تاسو تر هغه وخته پورې (کامِل) مؤمنان نه شئ کيدے تر څو پورې چې د يو بَل سره مينه اونکړئ! بيا ئې اوفرمائيل: آيا زه تاسو ته هغه خبره اونکړم، په کومه چې تاسو عمل اوکړئ او ستاسو په خپل مينځ کښې مينه زياته شي؟ اَفۡشُوا السَّلَامَ بَيۡنَكُمۡ په خپل مينځ کښې سلام عام کړئ.[1]

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د پينځه وخته لمَانځه اهتمام

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د حضرت عمر بن عبد العزيز يو مبارک عادت دا هم وو چې هغوئي به د خِلافت د ورځې شپې د مصروفياتو باوجودو پينځه وخته **لمُونځونه** ډير په پابندئ سره د جَمعې سره ادا کول. د اَذان آواز صفا اوريدو د پاره ئې په کور کښې مغرب طرف ته يوه وړه شان کړکئ جوړه کړې وه، که چرې مُؤذِّن به په اَذان کولو کښې ناوخته کړو نو ګس به ئې ليږلو او وئيل به ئې چې وخت شوے دے.[2] کله چې به مُؤذِّن اَذان اوکړو نو کوشش به ئې کولو چې د اَذان د آواز سره جُمات ته داخل شي.[3]

بھائیو! گر خُدا کی رِضا چاہیئے | آپ پڑھتے رہیں باجماعت نماز
جو مسلمان پانچوں نمازیں پڑھیں | لے چلے گی انہیں سُوئے جنَّت نماز[4]

[1]... ابوداؤد، کتابُ الادب، باب اِفْشَاءُ السلام، صفحہ:809، حديث:5193۔
[2]... سيرة و مناقب عمر بن عبد العزيز لابنِ جوزی،صفحہ:211۔
[3]... الطبقات الکبریٰ لابن سعد،جلد:5 ،صفحہ:278۔
[4]... وسائل فِردَوس، صفحہ:22۔

# په سُنَّت باندې د عمل کولو جذبه

حضرت عمر بن عبد العزیز رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه به په سُنَّتِ خیرُ الأنام (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم) باندې د عمل کولو پوره کوشش کولو. کله چې هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د مدينې گورنر وو نو د حضورِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم خاص خادم او عظیم صحابي حضرت اَنَس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د عراق نه مدينې منورې ته راغلو نو په حضرت عمر بن عبد العزیز رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه پسې ئې لمُونځ اوکړو. هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت عمر بن عبد العزیز رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه لمُونځ ډیر خوښ کړو، هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د لمَانځه نه پس اوفرمائيل: مَا رَاَيْتُ اَحَدًا اَشْبَهَ بِصَلَاةِ النَّبِيّ مِنْ هٰذَا الْغُلَامِ يعني ما د دې ځلمي نه زيات د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم په شان لمُونځ کوونکے څوک اونه ليدلو.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږ له هم پکار دي چې لمُونځ په اطمينان او سکون سره ادا کړو د پاره د دې چې لمُونځ د قبليدو معراج ته اورسي، د حضرت عُباده بن صامِت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د نبيِّ رحمت، شَفيعِ اُمّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کوم کَس چې په ښه طريقه اودس اوکړي، بيا د لمَانځه د پاره اودريږي، د دې رُکوع، سجده او قِراءَت پوره کړي نو لمُونځ وائي: الله پاک دې ستا حفاظت اوکړي لکه څنګه چې تا زما حفاظت اوکړو. بيا لمُونځ دغه شان د آسمان په لور بوتلے شي چې د ده د پاره ځلا [يعني پړقا] او نُور وي. بيا د ده د پاره د آسمان دروازې بيرته کړے شي تر دې پورې چې دا د الله پاک په دربار کښې پيش کړے شي او هغه لمُونځ د هغه لمُونځ کوونکي شفاعت کوي او که چرې هغه د لمُونځ رُکوع، سجده او قِراءَت پوره

---

[1]... سيرة و مناقب عمر بن عبد العزيز لابنِ جوزی،صفحہ:34۔

نه کړي نو لمُونځ وائي: الله پاک دې تا ضائع کړي لکه څنګه چې تا زه ضائع کړم. بيا دغه شان دا لمُونځ د آسمان په لور بوتلے شي چې په ده باندې تياره راخوره شوې وي او په ده باندې د آسمان دروازې بندې کړے شي بيا دا په زړه کېړه کښې راغونډ کړے شي او د لمُونځ کوونکي په مخ ور ويشتلے شي.[1]

| | |
|---|---|
| ہر عبادت سے برتر عبادت نماز<br>آؤ مسجد میں جُھک جاؤ رَبّ کے حُضُور | ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نماز<br>تم کو دِلوائے گی حق سے رِفعَت نماز[2] |

## د عالِمِ دِين اَدَب او احترام

**خوېندو او محترمو اسلامي ورونړو!** حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ چې کله د مديني منورې ګورنر وو، هغه وخت هم او کله چې خليفه جوړ شو، بيا به ئې هم د علمائے کرامو ډير زيات ادب او احترام کولو. حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د دوه نيمو کالو مختصره موده کښې په دُنيا کښې انقلاب راوستلو، د هغوئي کامياب ترين خِلافت ته خلافتِ راشده وئيلے شي، د هغوئي د دې بے مثاله کاميابئ يوه وجه د **علمائے دِين** قدر کول هم ده. د يو ځل واقعه ده چې حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د مديني منورې ګورنر وو، هغوئي يو قاصِد [استاذے] د حضرت سعيد بن مُسَيَّب رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په خدمت کښې اوليږلو چې د هغوئي نه د يوې مسئلے پوښتنه اوکړي. قاصِد په غلطئ کښې اووئيل چې تاسو امير غوښتلي ئې، حضرت سعيد رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د چا حاکم يا خليفه خوا ته د تللو عادت نه لرلو خو بلنه د حضرت عمر بن

---

[1]... شُعَبُ الْاِيمان،جلد:3،صفحہ:144، حديث:3140۔
[2]...وسائلِ فردَوس، صفحہ:22۔

عبد العزيز رَحۡمَةُ اللہِ عَلَیۡه په شان د عِلمي شخصيت له خوا نه وه، د دې د پاره حضرت د هغوئي د بلنې نه انکار اونکړے شو، فوراً ئې پيزار واچولو او د قاصِد سره روان شو، چې کله حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللہِ عَلَیۡه اوکتل چې حضرت سعيد بن مُسَيَّب رَحۡمَةُ اللہِ عَلَیۡه ذاتي طور تشريف راوړے دے نو وضاحت ئې اوکړو: حضورا! مونږه قاصِد ستاسو د رابللو د پاره نه بلکه د دې د پاره درليږلے وو چې هغوئي ستاسو نه مسئله معلومه کړي. دا د ده غلطي ده چې ده تاسو ته دلته د راتللو تکليف درکړو، د خدائے د پاره! تاسو واپس خپل ځائے ته تشريف يوسئ، زمونږه قاصد به هلته درشي او ستاسو نه به مسئله معلومه کړي.[1]

## د عالِمَانو اَدَب کوئ!

سُبۡحٰنَ الله! الله پاک دې مونږ ته هم د علمائے کرامو د ادب او احترام کولو توفيق راکړي. يقين اوکړئ! نن د مسلمانانو حالات مخ په ښکته روان دي، د دې يوه وجه دا هم ده چې د خلقو په زړونو کښې د علمائے کرامو ادب ډير کميږي. حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي:

اِنِ اسۡتَطَعۡتَ فَكُنۡ عَالِمًا فَاِنۡ لَّمۡ تَسۡتَطِعۡ فَكُنۡ مُتَعَلِّمًا فَاِنۡ لَمۡ تَسۡتَطِعۡ فَاَحِبَّهُمۡ فَاِنۡ لَّمۡ تَسۡتَطِعۡ فَلَاتَبۡغُضۡهُم

يعنې که چرې ستاسو نه کيدے شي نو عالِم جوړ شئ، که دا درنه نه کيږي نو طالبِ عِلم جوړ شئ، که دا درنه هم نه کيږي نو د علمائے کرامو سره مينه کوئ او که چرې دا درنه

[1]... الطبقات الكبرى لابن سعد،جلد:2 ،صفحه:291۔

هم نه کیږي نو کم از کم د هغوئي سره بغض مه ساتئ. بیا ئې اوفرمائیل: چا چې دا نصیحت قبول کړو، الله پاک به د هغه د پاره د خلاصي څه لاره رااوباسي.[1]

مجھ کو اے عطّار سُنّی عالِموں سے پیار ہے | اِنْ شَآءَ الله دوجہاں میں میرا بیڑا پار ہے[2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب　　صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## چرته ئې هم دروغ اونه وئیل

د اَمیرُ الْمُؤمِنِین حضرت عمر بن عبد العزیز رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه نه مخکښې سلیمان بن عبدُالمَلِک خلیفه وو، یو ځل د خلیفه سلیمان او د حضرت عمر بن عبد العزیز رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه ترمینځه په څه موضوع باندې خبرې کیدلې، په دې خلیفه سلیمان په غُصَّه کښې اووئیل: تاسو دروغ وائې. په دې باندې حضرت عمر بن عبد العزیز رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه اوفرمائیل: چې د کله نه زه په ښه بد پوهه شوے یم او ما ته پته لګیدلې ده چې دروغ انسان ته نقصان رسوي، تر نن وخته پورې مې کله هم دروغ نه دي وئیلي.[3]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** تاسو اوکتل! حضرت عمر بن عبد العزیز رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه به د دروغو نه څومره نفرت کولو! او د دروغو نه نفرت کول هم پکار دے خو ډیر افسوس! نن صبا زیات دروغ وئیل د کمال او ترقئ علامت او رښتیا کم عقلي او د ترقئ په لار کښې خنډ ګڼړلے شي بلکه بعضې وخت خو خلق د خپل مقصد د پاره د

---

[1] … سیرة عمر بن عبد العزیزلابن عبدالحکم،صفحہ:118۔
[2] … وسائلِ بخشش،صفحہ:699 ۔
[3] … سیرة عمر بن عبد العزیزلابن عبدالحکم،صفحہ:28۔

دروغو قسمونه هم خوري (اَسْتَغْفِرُ الله!).

**ياد ساتئ!** دروغ وئيونکے که په دُنيا کښې هر څومره کاميابي حاصله کړي، په آخِرت کښې به ناکامي او رُسوائي هغه ته هر کلے وائي، مونږ له پکار دي چې خپله ژبه د دروغو وئيلو نه محفوظه اوساتو. د الله پاک آخري نبی، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل:

**(1)** اَلَا اِنَّ الْكِذْبَ يُسَوِّدُ الْوَجْهَ وَالنَّمِيْمَةَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ يعنې دروغ ، انسان رُسوا کوي او **چُغلي** د قبر د عذاب سبب جوړيږي.[1]

**(2)** په يو روايت کښې دي: اِذَا كَذَبَ الْعَبْدُ تَبَاعَدَ عَنْهُ الْمَلَكُ مِيلًا مِنْ نَتْنِ مَا جَاءَ بِهِ يعنې چې کله بنده دروغ وائي نو د دې نه د تلونکې سخا بوئ په وجه فرښته يو ميل لرې لاړه شي.[2]

**(3)** د مسلم شريف په روايت کښې دي: رښتيا وئيل د نيکئ په لور او نيکي جنّت ته بوتلل کوي او بيشکه بنده رښتيا وائي تر دې چې هغه صِدّيق اوليکلے شي او دروغ وئيل د گناه په لور او گناه دوزخ ته بوتلل کوي، بيشکه بنده دروغ وائي تر دې چې هغه كذّاب (يعنې ډير غټ دروغژن) اوليکلے شي.[3]

میں جھوٹ نہ بُولوں، کبھی گالی نہ نِکالوں
میں فالتو باتوں سے رہوں دُور ہمیشہ
اَخلاق ہوں اچّھے مِرا کردار ہو سُتھرا
اللہ! مَرَض سے تُو گناہوں کے شِفا دے
چُپ رہنے کا اللہ! سلیقہ تُو سِکھا دے
محبوب کا صَدقہ تُو مجھے نیک بنا دے[4]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... الترغيب و الترهيب،كتاب الادب وغيره،الترهيب من النميمة، صفحه:895، حديث:6 ـ
[2]... ترمذی،كتاب البر و الصلة،باب ما جاء فی الصدق و الكذب،صفحه:481، حديث:1972ـ
[3]... مسلم، كتاب البر والصلة و الآداب، باب قبح الكذب...الخ،صفحه:1007،حديث:2607 ـ
[4]... وسائلِ بخشش، صفحه:115 ـ

## د هرې ورځ جَدوَل

د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بـي بـي محترمه حضرت فاطمه بنت عبدُ المَلِک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها فرمائي: ❀ حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خپل ذات د مسلمانانو د پاره او خپل ذهن د هغوئي د کارونو د پاره فارغه کړے وو ❀ که چرې ماښام به شو او هغه به د مسلمانانو د کار نه فارغه نه شو نو د ورځې سره به ئې شپه هم يو ځائے کړه او د شپې تر ناوخته پورې به ئې کار کولو ❀ کله چې به د ورځې کار ختم شو نو خپله ډيوه به ئې را اوغوښتله، بيا به ئې 2 رکعته نفل اوکړل او سر به ئې په زنګونانو باندې کيښودو او په اودريدلو ښپو (يعني ښپې به ئې اودرولې او ورنونه به ئې خيتې سره يو کړل او) به کښيناستو ❀ لږ ساعت پس به ئې په مخ باندې د اوښکو لړئ بهيدل شروع شول او دومره به ئې ژړل لکه چې د هغه زړه به اوچوي او رُوح به ترې لا ړ شي، ټوله شپه به ئې دا حالت وو، کله چې به سحر شو نو روژه به ئې اونيوله.[1]

محبت میں اپنی گُما یا الٰہی!
نہ پاؤں میں اپنا پتا یا الٰہی!
رہوں مَست و بے خُود میں تیری وِلا میں
پِلا جام ایسا پِلا یا الٰہی![2]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## چې تلاوت وي نو داسې دې وي!

د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د وفات نه پس به د هغوئي بـي بـي محترمې

---

[1] ... سيرة عمر بن عبد العزيزلابن عبدالحکم،صفحہ:150۔

[2] ... وسائلِ بخشش،صفحہ:105۔

حضرت فاطمه بنتِ عبد المَلِک رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡھِما ډېر زيات ژړل تر دې چې د هغې د سترګو نظر په تللو شو. د هغې نه چې د دومره ژړلو وجه اوپوښتلے شوه نو اوئې فرمائيل: په الله پاک مې دې قسم وي! چې ما هغه عجيبه شان او د درد نه ډَکه نظاره ژړوي، کومه چې ما يوه شپه اوليدله. په هغه شپه ما دا اوکتړل چې د څه ډېر وحشتناکه نظارې ليدلو سره د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه دا حالت شوے دے او نن شپه به هغوئې وفات شي. په هغه شپه ما اوليدل چې حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه لمُونځ کوي، په قراءَت کولو کښې چې کله دې آيت ته را اورسيدلو:

يَوۡمَ يَكُوۡنُ النَّاسُ كَالۡفَرَاشِ الۡمَبۡثُوۡثِ ۙ﴿۴﴾ وَ تَكُوۡنُ الۡجِبَالُ كَالۡعِهۡنِ الۡمَنۡفُوۡشِ ؕ﴿۵﴾

(پاره 30، القارعة:4،5)

مفهوم ترجمه کنزُالايمان: په کومه ورځ به چې سړي شي داسې لکه چې زيږې لولکئ او غرونه شي داسې لکه چې وهلے شوې وړئ.

نو دا آيت چې ئې اولوستلو نو يوه تيزه چغه ئې اووهله او اوئې فرمائيل: **هئ! په هغه ورځ به زما څه حال وي؟ هئ! هغه به څومره سخته ورځ وي.** بيا پړمخ راپريوتلو او د خُلے نه ئې عجيبه عجيبه آوازونه راختل بيا يو دَم داسې خاموشه شو زه اويريدم چې چرې رُوح ترې نه وي تلے! لږ وخت پس هغه په هوش کښې راغلو نو اوئې فرمائيل: **هئ! په هغه ورځ به څنګه سخته معامله وي** او فرياد او ژړا ئې کوله او په بےقرارئ سره ئې په صحن [انګڼ] کښې ګرځيدل شروع کړل او اوئې فرمائيل: **هئ په هغه ورځ به زما هلاکت وي په کومه ورځ چې به انسان د زيړو پتنګانو [لولکو] په شان وي او غرونه به د وهلے شوې وړئ په شان شي.** ټوله شپه د هغوئې هم دغه حالت وو. کله چې د سحر اذانونه شروع شول نو بيا راپريوتلو، په دې ځل خو ما اوکتړل چې اوس خو ترې رُوح تلے دے خو لږ وخت پس په هوش کښې راغلو. د دومره وئيلو نه پس حضرت فاطمه

بنتِ عبد المَلِک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهَا اوفرمائيل: په الله پاک مې دې قسم وي! کله چې هم ماته ځغه شپه رایاده شي نو زما د سترګو نه بے اختیاره اوښکې را رواني شي.[1]

خوفِ دوزخ کا آہ! رحمت ہو
میرا نازُک بَدَن جہنّم سے
خاکِ طیبہ کا واسطہ یا ربّ!
از طُفیلِ رضا بچا یا ربّ![2]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تاسو اوکتل! چې حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خومره د الله نه ویریدونکے وو. آه! یو مونږه یو، هډو نیکۍ مو نشته او حال دا دے چې د دوزخ نه لکه چې بالکل ویریږو نه، ژوند مو په عیش و عشرت کښې تیریږي، غفلت راباندې خور دے، په لوبو ټوقو، فضولیاتو کښې مصروفه یو، نه د قبر فِکر، نه د حشر فِکر، نه د قیامت د حِساب، نه د پُلِ صِراط خیال...!! کاش! چې د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په برکت زمونږه هم د الله پاک نه ویره نصیب شي.

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

گناہوں سے مجھ کو بچا یا الٰہی!
بُری عادتیں بھی چُھڑا یا الٰہی!
ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ
میں تھر تھر رہوں کانپتا یا الٰہی!

## د الله پاک نه د ویرې په فضائلو باندې 3 احادیث

(1) د حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دوه اهم خیزونه مه هیروئ، صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان پوښتنه

[1]...سیرة و مناقب عمر بن عبد العزيز لابن جوزی،صفحہ:223۔

[2]...وسائلِ بخشش،صفحہ:80۔

اوکړه: دوه څيزونه څه دي؟ اوئې فرمائيل: جنّت او دوزخ. دا ئې چې اوفرمائيل نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ژړا شو تر دې چې په اوښکو د هغوئي ګيره مبارکه لَمْده شوه. بيا ئې اوفرمائيل: په هغه ذات مې دې قسم وي د چا په قبضهٔ قدرت کښې چې زما ځان دے! که چرې تاسو ته د هغه څه پته اولګي د کومو چې ماته پته ده نو ځنګلونو ته به لاړ شئ او په خپلو سرونو باندې به خاورې اچوئ.[1]

**(2)** آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د کوم مومن بنده د سترګو نه چې د الله پاک د ويرې په وجه اوښکه رااوځي اګرچه هغه د مچ د سر برابر وي، بيا هغه اوښکه د هغه په مخ راشي نو الله پاک به په هغه باندې د دوزخ اور حرام کړي.[2]

**(3):** د آخري نبي، مکي مدني مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: چې کله د الله پاک د ويرې نه د بنده بدن اولړزيږي نو د هغه ګناهونه داسې رژيږي لکه څنګه چې د وَچې وَنې نه پاڼې رَژيږي.[3]

مِرے اَشک بہتے رہیں کاش ہر دم | ترے خوف سے یا خدا یا الٰہی!
ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ | میں تھر تھر رہوں کانپتا یاالٰہی![4]

## د اَمِيرُ الْمُؤمِنِين د تَبَرُّکاتو سره مينه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرت عمر بن عبد العزيز

---

[1]… موسوعۃ ابن ابی الدنیا، کتاب الرقۃ والبکاء ،جلد:3 ،صفحہ:190، حدیث:102۔
[2]… ابن ماجہ، کتاب الزہد، باب الحزن والبکاء ،صفحہ:681، حدیث:4197۔
[3]…شُعَبُ الایمان،جلد:1 ،صفحہ:491 ،حدیث:803۔
[4]… وسائلِ بخشش،صفحہ:105۔

رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په زړه کښې لکه چې خنګه د الله پاک نه ويره زياته وه، هم داسې هغوئي د عشقِ رسول نمونه وه، د هغوئي يو ډير ښکلے او د عشق نه ډک صفت دا هم دے چې هغوئي به د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تَبَرُّکاتو ډير ادب کولو. د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ سره ډير زيات تبرکات وو مثلاً د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بستره مبارکه، پيالئ، څادر او عصا شريف وغيره، حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د دې تبرکاتو مبارکو د پاره يوه کمره خاص کړې وه او هره ورځ به ئې د دې زيارت کولو.[1]

د وِصال په وخت هغوئي وَصِيَّت اوفرمائيلو چې د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو څو موئے مبارک او نوکان مبارک دې په کفن کښې کيښودے شي، هم دغسې د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ وصيت پوره کړے شو او هغوئي د موئے مبارک او د نوکانو مبارکو سره دفن کړے شو.

سُبْحٰنَ الله! الله کريم! دې زمونږه هم د عشقِ رسول کمال نصيب کړي. کاش! چې په مونږه ګنهګارانو هم کرم اوشي او په قبر کښې د کيښودو د پاره مو يو څو تبرکات نصيب شي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! قِسمت به مو ښه شي. د الله پاک دې په حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ باندې رَحمت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم .

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]...سيرة و مناقب عمر بن عبد العزيز لابن جوزی،صفحہ:253۔

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: نيک اَعمَال

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د فتنو نه په دې ډَک دور کښې د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي ديني ماحول د الله پاک لوئے نعمت دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اسلامي لمُونځ گزاره جوړوونکے، په ټوله دُنيا کښې د سُنَّتو عام کوونکے ديني تحريک دے. تاسو هم د دعوتِ اسلامي ديني ماحول لمَن اونيسئ، په 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره حِصَّه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دين او دُنيا بے شميره خيرونه به در نصيب شي. په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: نيک اَعمَال هم دے. دا وړه شان رساله د مکتبة المَدينه نه هديةً واخلئ او که غواړئ نو د دعوتِ اسلامي د ويب سائټ (www.dawateislami.net) نه ئې ډاؤن لوډ کړئ بلکه که نوره آساني غواړئ نو په خپل موبائل کښې ***Naik Amal*** ايپلي کيشن انسټال کړئ، په دې کښې په مختلفو نيکو اعمالو باندې مشتمل سوالونه ورکړے شوي دي، د هر سوال نه لاندې 30 خانے دي، هره ورځ د خپلې خوښې يو وخت مقرر کړئ او د خپلو اعمالو جائزه اخلئ، او د هغې مطابق ژوند تيروئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دې په برکت به د گناهونو نه د بچ کيدو او د نيکو کولو ذِهن جوړيږي، د زړه پاکي به نصيب کيږي او کردار به مو صفا ستهرا، ځلنده، ښکلے شي. راځئ د ترغيب د پاره يو مدني سپرلے اورو:

## ټوله کورنۍ په نيغه لار شوه

د ضلع اټک (پنجاب، پاکستان) د يو اسلامي ورور بيان دے، ما د گناهونو نه ډک ژوند تيرولو، فلمونه کتل، لوفري کول، لمُونځونه قضا کول وغيره زما په معمولاتو کښې شامل وو، يو ځل زمونږه علاقے ته د عاشقانِ رسول مدني قافله راغله، په هغوئي کښې يو اسلامي

وروڼو ماته د ماښام د لمونځ کولو او بيان کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، زما خوش قسمتي وه چې زه د هغوئي سره جُمات ته لاړم، د ماښام د لمَانځه نه پس بيان ما له ډيره مزه راکړه، د بيان په آخره کښې مبلغ د **نيک اعمال** رسالے تعارُف اوکړو، په رساله **نيک اعمال** کښې د درج د نيکو نه ډک ژوند تيرولو مدني ګل ليدلو سره ماته ډيره خوشحالي ميلاؤ شوه، د دې رسالے په شکل کښې د شيخِ طريقت، امير اهلِسُنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اُمَّت د اصلاح د پاره د محنت ليدلو سره ما لاس په لاس د بيعت کولو د پاره نوم ورکړو او عطّاري جوړ شوم، د وخت د ولیٔ کامل سره نسبت څه جوړ شو چې د ګناهونو نه بيزاره شوم او نيکو طرف ته مائل شوم، ما د ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اسلامي ديني ماحول مې د زړه نه خپل کړو، د دې په برکت هم ښه اثر اوشو، اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! په مزه مزه ټوله کورنۍ قادري، رضوي، عطّاري جوړه شوه، په کور کښې د لمونځو پابندي شروع شوه، فلمونه ډرامے او سندرے باجے بندې شوے او د ګناهونو نه د ډک چينل په ځائے مدني چينل اولګيدلو.[1]

خوب مَدنی قافِلوں کی دھوم ہو
نیک ہو اُمَّت اے نانائے حسین
"مَدنی اِنعامات" کی ہو ریل پیل
نیک ہو اُمَّت اے نانائے حسین[2]

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې **مدني انعامات** ته اوس **نيک اَعمَال** وئيلے شي.

## مدني قاعِده (Madani Qaida) موبائل ايپلي کيشن

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي *I.T* ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې مدني قاعِده

---

[1] ...دلوں کا چین، صفحہ:4۔

[2] ...وسائلِ بخشش، صفحہ:258۔

**(Madani Qaida)** دے. په دې ايپلي کيشن کښې مکمله مدني قاعِده او د دې آډيو **(Audio)** شامله کړے شوې ده يعني په دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مدني قاعِدې په کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک **(Click)** کوئ، په آډيو **(Audio)** کښې به د هغې تَلَفُّظ چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن په مدد سره په آسانئ سره مدني قاعِده لوستل، د دې مشق **(Practice)** کول او صحيح مخارج او ضروري تجويد زده کيدے شي. دا ايپلي کيشن په خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ.

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنّت فضيلت او د ژوند يو څو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شَهَنشَاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: **مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ** چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جنّت کښې زما سره وي.[1]

سينہ تيری سُنّت کا مدينہ بنے آقا! جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## عيادت (يعني د بيمارتپوس کول) سُنَّتِ مصطفٰے دے

د **رسولُ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين: (1)** څوک چې د مريض تپوس کوي هغه د جنّت په باغ کښې کښيني، کله چې هغه اودريږي نو 70 زره فرښتې د شپې پورې د

[1]... مشكوٰة،كتابُ:الْايمان،بابُ:الْاِعْتِصَام، جلد:1، صفحہ:55، حديث:175۔

هغه د پاره دُعا کوي.[1] **(2)** څوک چې د ثواب په طمع د خپل مسلمان ورور تپوس اوکړي، هغه به د دوزخ نه د 70 کالو په فاصِله لرې کړے شي.[2]

**اے عاشقانِ رَسُول!** د مريض تپوس کول سُنَّتِ مصطفٰـی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بلکه سُنَّتِ انبياء دے ❁ د خوږ نبـي رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عادت مبارک وو چې د کوم يو صحابي (رَضِیَ اللہُ عَنْہُ) د بيمارئ خبر به ورته ميلاؤ شو نو هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د هغه د تپوس د پاره تشريف وړلو ❁ که چرې يو کَس به 3 ورځې جُمات ته رانغلو نو هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د هغه په باره کښې د خلقو نه پوښتنه کوله، که چرې هغه به بيمار وو نو د هغه تپوس له به تللو[3] ❁ او که چرې د تپوس کولو د پاره به د مدينے منورې آخري سر ته هم تلل وو نو هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به تشريف وړلو او دخپلو صحابه کرامو (رَضِیَ اللہُ عَنْہُم) تپوس به ئې کولو.[4] ❁ مشهور مُفَسِّرِ قُرآن حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: د حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اخلاقِ کريمه نه دي چې هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د هر مالداره او غريب تپوس له د هغوئي کور ته تشريف وړلو.[5] ❁ د حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عادت مبارک دا وو چې کله به ئې د مريض د تپوس د پاره تشريف يوړلو نو فرمائيل به ئې: لَا بَاْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَآءَ الله (يعني هيڅ باک نشته که الله پاک اوغواړي نو دا مرض

---

[1] …شعب الايمان، مريض کی عيادت کا باب، جلد:6، صفحہ:531، حديث:9171۔
[2] …ابو داؤد ،کتاب:جنائز ، باب :وضو ميں عيادت کی فضيلت، صفحہ: 500، حديث:3097۔
[3] …مسند ابی يعلی، جلد:3، صفحہ: 141، حديث: 3429۔
[4] … مسلم،کتاب: جنائز، مريض کی عيادت کا باب ،صفحہ:331، حديث:925خلاصتًہ۔
[5] …مرآة المناجيح، جلد: 2، صفحہ:407۔

(د ګناهونو) نه پاك کوونکے دے) د يو اعرابي (يعني د کلي اوسيدونکي) د تپوس د پاره ئې تشريف يوړلو نو دا [کلِمات] اوئې فرمائيل: لَا بَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَآءَ الله.[1]

د تپوس کولو او د نورو ډيرو روحاني علاج په باره کښې د نورو معلوماتو د پاره د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ رساله **بيمار عابد** اولولئ.

د مختلفو سنتونو زده کولو د پاره د **مکتبةُ المَدينه بهارِ شريعت** جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د 91 صفحو کتاب **550 سنتيں اور آداب** او رساله **بيمار عابِد** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مدني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم ده.

لُوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سنتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو | ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... بخاری،کتاب: المناقب، صفحہ:919، حدیث:3616 ۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه كښې) دا دُرُود شريف په پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبُر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبُر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون،ص١٥١ملخصًا

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

حضرت اَحْمَد صَاوِى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِىَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه

---

1... القول البديع،الباب الثانى، ص٢٧٧
2... افضل الصلوات على سيد السادات،الصلاة الثانية والخمسون،ص١٤٩
3... القول البديع،الباب الاول،ص١٢٥

ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِيَامَةِ

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَی اللهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللهِ
رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب،کتاب الذکر و الدعاء،۳۲۹/۲،حديث:۳۰
2... مجمع الزوائد،کتاب الادعية،باب فی کيفية الصلاة...الخ،۲۵۴/۱۰،حديث:۱۷۳۰۵
3... تاريخ ابنِ عساکر،۱۵۵/۱۹،حديث:۴۴۱۵